بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

# ټرمپ په امریکا کې له کډوالو څخه وېره لري، چېرته چې ښوونکې د مسلمانو نجونو له سرونو څخه حجاب لرې کوي!



**خبر:**

د ویرجینیا ایالت په یوه ښوونځي کې یو ښوونکی ځکه له خپلې دندې رخصت شو، چې د یوه زده کوونکې له سر څخه یې حجاب لرې کړ. د چهارشنبې په ورځ زده کوونکې له پېښې وروسته په خپله ټوېټر پاڼه کې لیکلي: « یوه ښوونکې مې له سره هغه حجاب لرې کړ، چې عزت او پت مې پکې خوندي و.»

همدا راز دغې زده کوونکې په خپله ټوېټر پاڼه کې زیاته کړې، چې دا له خپلې یوې ملګرې سره په خبرو بوخته وه، چې ښوونکې یې د شا له خوا څخه حجاب پورته کړ او د زده کونکې په غبرګون کې ښوونکې وویل: « ستا ویښتان ډېر ښکلي دي». د فیرفاکس کونټي دولتي ښوونځي (FCPS) په یوه بیانیه کې ویلي: « دغه یوه نامناسبه او د نه منلو وړ پېښه ده». د ښوونځي چارواکو دغه پېښه ډېره جدي ګڼلې او د پېښې په اړه نورې څېړنې هم کوي او ښوونکی یې رخصت کړی دی. د امریکا د اسلامي اړیکو شورا (CAIR) د زده کوونکې د ټوېټر پاڼې وینا تایید کړې او ویلي یې دي: « موږ د ښوونځي پرېکړې ته درناوی کوو، چې ښوونکی یې رخصت کړی، د زده کوونکې او د هغې له کورنۍ څخه په کې د بخښنې غوښتنه شوې، خو د دغې خواشینوونکې پېښې په اړه د څېړنو تر څنګ بلې سزا ته هم اړتیا شته». د امریکا د اسلامي اړیکو د شورا اجرایوي مشر نهاد اواد زیاته کړه: « پر هر زده کونکې باندې باید له ملنډې وهلو او برید

کولو څخه ډېره وشي، که په هرې عقيدې پورې تړلی وي. ښوونکي باید زده کوونکي له ګواښلو او ربړولو څخه وژغوري ».

**تبصره:**

په امریکا کې د ولسمشریزو ټاکنو پر مهال ټرمپ د ټولنې ټولو وګړو او ان ښوونکو ته اجازه ورکړه، چې د اسلام، مسلمانانو او ان د مسلمانو نجونو پر وړاندې له کرکې او زور زیاتي څخه ډکه لاره غوره کړي. په دیموکراتیکو ټولنو کې په ځانګړې توګه په امریکا متحده ایالتونو کې اسلامي مفکورې ته د لیونی، سختدریځی او نه منونکې مفکورې په سترګه کتل کېږي. د امریکا د ملي امنیت څارګرې ادارې( FBI ) په کلني راپور کې د کرکې زېږوونکو جرمونو په اړه راغلي، چې ۶۱۲۱ د کرکې وړ جرمي پېښې په تېر کال کې ثبت شوي دي، چې پکې د ۲۰۱۵م په پرتله په سلو کې پنځه سلنه او د ۲۰۱۴م په پرتله په سلو کې لس سلنه زیاتوالی ښيي. د مسلمانانو پر وړاندې د مذهبي تاوتریخوالي ۳۰۷ جرمي پېښې تر سره شوي، چې پکې د ۲۰۱۵م په پرتله ۱۹سلنه او د ۲۰۱۴م په پرتله دوه برابره زیاتوالی راغلی.

په دغه راپور کې د دغه راز پېښو د زیاتوالي لامل نه دی په ډاګه شوی. خو په حقیقت کې دیموکراتیک سیاسي نظامونه، رسنۍ او  د دوی ښوونکي د کرکجنو جرمونو د زیاتوالي لامل دي. دوی په منظم ډول د سیاسي خبرو اترو له لارې د تعصب او کرکې اور بلولو ته لمن وهي، ترڅو په دې لاره کې اسلام او مسلمانان د یوې وسیلې په توګه قرباني، د پانګوال دیموکراتیک نظام ناکامی پټې او مسولیتونه ادا کړي. د پانګوال نظام له ناکامیو څخه دا دي، چې لوبغاړي یې په لوبغالي کې پر مسلمانو زده کوونکو بریدونه کوي او اوس یې ښوونکي له مسلمانو نجونو څخه حجاب لرې کوي.

د روان میلادي کال د مې په میاشت کې، د برانکس په دولتي  ښوونځي کې ( Bronx Public School 76 ) له صفا الذوکرې سره د ناوړه چلند په اړه راپورونه خپاره شوي: له اته کلنې صفا الذکورې څخه ۳۱ کلن قراردادي ښوونکي ( Oghenetega Edah ) د حجاب لرې کولو غوښتنه وکړه، خو صفا ونه منلو او ښوونکي پخپله د هغې له سره حجاب لرې کړ. د پولیسو په وینا، د صفا له سره پوړنی پرمخ راکش شوی او ښۍ سترګه یې ژوبله شوې. د صفا پلار محمد الذکوري له یمن څخه راغلی کډوال دی او کله چې په ښوونځي کې یې له لور سره د شوې پېښې په اړه خبر شو، ډېر وځورېد او  زیاته یې کړه: « ما د دې تمه نه درلوده، چې یو ښوونکی دې له یو ماشوم سره داسې کړنه ترسره کړي ».

له دې امله سیکولر دیموکراتیک نظام  توانېدلی، چې په ټولنو کې د کډوالو پر وړاندې له خطر او کرکې څخه ډکې مفکورې دود کړي. په داسې حال کې، چې اسلام څوارلس سوه کاله وړاندې د دغه ډول ناوړو مفکورو ریښې ایستلې او دغه راز یې تر خپلې واکمنۍ لاندې په بې ساري توګه د مذهبي لږکیو له حقونو، عزت او ناموس څخه دفاع کړې. پخوانی ملا امام قرافي په خلافت دولت کې د ذمیانو په اړه وایي: «د ذمیانو په اړه د مسلمانانو مسولیت دا دی، چې د دوی کمزورتیا په پام کې ونیسي، د بې وزلو اړتیاوې یې پوره کړي، وږي یې ماړه کړي، جامې ورکړي، اخلاقي چلند ورسره وکړي او ان که د ګاونډي له لوري ضرر ور ورسېد، ویې زغمي. باید مسلمانان په رښتني توګه ورسره د ژوند په چارو کې مرسته وکړي او

له هر هغه چا څخه یې وژغوري، چې شتمني یې لوټوي، حقونه یې تر پښو لاندې کوي، دوی او د دوی کورنۍ ته زیان اړوي.»

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر لپاره**

**لیکواله: سوریا امال یسنا**

**۱۴۳۹هـ.ق، د ربیع الاول ۷مه**

**۲۰۱۷م، د نومبر ۲۵مه**

**ژباړن: افغان بادشاه**